## لنډيز :په افغان پوځی شخړه کی ښکيلی خواوی دی دملکی کسانو خونديتوب ته زيات پام وکړی کلنی راپورنه په ۲۰۱۰ کال کی دی ۲۷۷۷ ملکی کسانو مړينه ثبت کړيږ.

په افغانستان کی په ۲۰۱۰ زيږديز کال کی وسلوالو نښتو کی انسانی زيان زيات شوی دی. د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کميسيون او د يوناما د بشری حقونو څانگی په ۲۰۱۰ کال کی د ۲،۷۷۷ ملکی خلکو وژل ثبت کړی دی چی د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۱۵ سلنه زيات دی. د تيرو څلورو کلونو راهيسی ۸،۸۳۲ ملکی کسان په پوځی شخړه کی وژل شوی دی چی هر کال د ملکی کسانو د مړينی کچه لوړه شوی[1]. پر خلکو د شخړو زياتيدونکی ناوړه اغيزی، لکه د ۲۰۱۰ کال په جريان کی چی ګڼ شمير وګړو ته په خپلو کورونو او ټولنو کی مرګ ژوبله واوخته، د دی پر ضرورت ټينګار کوی چی بايد ښکيلی خواوی د ملکی خلکو د ژغورنی لپاره اړين ګامونه واخلی. د يوناما د بشری حقونو څانګه او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کميسيون د دولت مخالفو خواو او د دولت پلوو ځواکونو څخه غواړی چی د ملکی خلکو ساتنه زياته وکړی او خپل قانونی مسوليتونه په پام کی ونيسی تر څو د ملکی خلکو زيانمنيدلو کی کموالی راشی.

## د ملکی خلکو مړينه

په ۲۰۱۰ کی د ټولو ۲،۷۷۷ وژل شوو ملکی کسانو له جملی څخه د ۲،۰۸۰ کسانو وژنه (۷۵ سلنه) د دولت مخاليفينو[2] ته منسوب شوی چی د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۲۸ ٪ زيات والی ښيئ. ځان مرګی بريدونه او ځای پر ځای شوی چاوديدونکی توکی د زياتو ملکی کسانو د مرګ ژوبلی لامل ګرځيدلی چی ټول ۱،۱۴۱ ملکی کسان له دی امله وژل شوی ( دا د وژل شوو ملکی کسانو چی د دولت مخالف وسلوالو ته منسوبيږی، ۵۵ سلنه تشکيلوی). ترټولو خطرناک سير په ۲۰۱۰ کال کی دا و چی د دولت ضد عناصرو لخوا ګڼ شميرملکي وګړی ترور شوی يا په انفرادی توګه وژل شوی چی څلورسوه دوه شپيته ملکی کسان اعدام شول چی د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۱۰۵ سلنه زياتوالي ښيي. دملکي کسانو د ترور نيمايي برخه دهيواد په سويل کي رامنځ ته شوی. په هلمند ولايت کي ددولت ضد عناصرو له خوا دملکي کسانو په اعدامولو کی ۵۸۸ سلنه لوړوالی او په قندهار ولايت کي د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۲۴۸ سلنه زياتوالي راغلي.

دافغان امنيتي ځواکونواو نړيوالو ځواکونو (حکومت پلوه ځواکونه) ته د ٤٤٠ کسانو مړينه منسوب شوي چي د ټولو ملکي تلفاتو ۱۶ سلنه تشکيلوي اود ۲۰۰۹ کال په پرتله ۲۶ سلنه په کی کم والي راغلي. په ۲۰۱۰ کال کي دولت پلوه ځواکونو ته منسوب ملکی تلفاتو کی زياتره ملکی وګړی دهوايي بريدونو په پايله کي وژل شوي چي ټول ټال د ۱۷۱ کسانو د مړيني سبب شوي او دا د دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي مړينو ۳۹ سلنه تشکيلوي. د پام وړ خبره ده چی د ۲۰۰۹ کال په

---

[1] ديوناما بشري حقونو څانګه او او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کميسيون په خپلو څيړنواوراپورونوکي دجنوري لومړي نيتي څخه تر ۳۱ دسمبر۲۰۱۰ پوري هغه ټول تلفات راټول کړي چي د دوي سيمه ئزو دفترونو راپورکړي اودپيښي دځايي ليدني اوپه لويه کچه دزيانمن شوو سره مرکي کړي دکره کتني اوفزيکي شواهدوکتني اومعتبروسرچينو سره يی تصديق کړي. ديوناما بشري حقونوڅانګي او بشر حقونو خپلواک کميسيون د ورکړل شوي راپور دبشپړي شميرني ادعا نه کوي چي دبعضي محدوديتونواوميتودولوجي اوکاري چاپيريال په نظر کی نيولو شايد نه وی راپور شوی ( د د راپور د ميتودولوجی برخه وګوري .

[2] د دولت ضد عناصرعبارت دي له وسلوالومخالفو ډلو اومختلفو اشخاصو څخه چی د بيلابيل شاليد، موخو اومشر تابه جوړښت په درلودلو سره، لکه طالبان، حقاني شبکه، لشکرطيبه اوالقاعده سره تړلی د ازبکستان اسلامي تحريک، جهاد اسلامي اتحاد، لشکرطيبه او جيش محمد، د افغانستان دولت او نړيوالو ايتلافي ځواکونو سره په جنګ کي ښکيلي دي.

پرتله په هوايي بريدونو کی ملکی تلفاتو کی ۵۲ سلنه ټيټوالي راغلي[3]. دملکي وګړو د تلفاتو ۹ سلنه په جګړه کي دنامعلومو ښکيلو خواو له لوری وژل شوي.

د۲۰۱۰ کال په اوږدو کي د زياتو ملکي کسانو وژل د دولت ضد عناصرو له خوا د ځاي په پرځاي شوو چاوديدونکو توکو او اعدامونو يا وژنو له امله او هم په ځانګړي توګه د افغانستان په سويل کي د زياتو پوځي عملياتونو په پايله کی رامنځ ته شوی.

که څه هم دغه نښتي زياتره په ۲۰۱۰ کي په سويل اوسويل ختيځ کي رامنځ ته شوي خو د نا امني اوتاوتريخوالي دا لړي د هيواد شمال ختيځ اولويديځ سيمو ته هم وغزيدلي[4]. دختيځ پرته په ټولو سيمو کي د ۲۰۰۹ کال په پرتله دملکي کسانو زياتی مړينی منځ ته راغلي. د کال په اوږدو کي د هيواد شمالی برخه د زياتو جنګونو شاهده وه او د ۲۰۰۹ کال په نسبت دملکي کسانو په تلفاتو کي ۷٦ سلنه لوړ والی راغلي. په جنوب ختيځ اوجنوبی سيمو کي د ۲۰۰۹ کال په نسبت زياتوالي راغلي چي د ملکی کسانو د تلفاتو کچه په سويل ختيځ کی ٤۰سلنه اوسويل کي ۲۰ سلنه لوړه شوی.

## په ښځواوماشومانو اغيزي

رواني شخړي په تيره بيا ښځي اوماشومان په بده توګه اغيزمن کړي دی. د ۲۰۰۹ کال په نسبت ډيرماشومان اوښځي وژل شوي. د ۲۰۰۹ کال په پرتله د ښځو مړينه کی شپږسلنه او د ماشومانو مړينه کی ۲۱ سلنه لوړوالي راغلي. په ۲۰۱۰ کال کي د ښځو اوماشومانو د تلفاتو د کچی لوړيدو سربيره، د مخ پر ډيريدو شخړو له امله ګڼ شمير ښځو او ماشومانو بنيادي خدمتونو، لکه روغتيايی خدمتونه اوزده کړي، ته تر ډير لږ حده لاس رسي درلوده.

په ۲۰۱۰ کال کي ٤۰ سلنه د ښځو مړينه او ٤٤ سلنه د ماشومانو مړينه د ځاي پرځاي شوو چاوديدونکو توکو اوځان وژونکو بريدونو په پايله کي منځ ته راغلي. دا شميره د ۲۰۰۹ په پرتله د ښځو په مړينه کي ۳۱ سلنه او د ماشومانو مړينه کي ٦٦ سلنه لوړوالي ښئ. اته ماشومان د دولت ضد عناصرو له خوا د مرګ په سزا محکوم شوی دی.

دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوی د ټولو ملکي کسانو له جملي څخه ۳۷ سلنه ښځو او ۲۹ سلنه ماشومانو مړينه دهوايي بريدونوپه نتيجه کي منځ ته راغلي. دغه شمير د ۲۰۰۹ کال په پرتله په ترتيب ٦۲ سلنه او۷۲ سلنه کموالی ښئ. په ټول هيواد کی د لټون او نيولو عملياتو يا د شپی له خوا تلاشی په پايله کی ۸ ښځی او ۹ ماشومان وژل شوی دی. د دی عملياتو په پايله کی د نورو سيمو په پرتله تر ټولو ډير ماشومان په جنوب او ډيری ښځی په سويل ختيځ کی وژل شوی دی.

## ملکي ژوبله

په ۲۰۱۰ کال کی د پوځی شخړی له امله د ملکي کسانو ټپي کيدنه د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۲۲ سلنه لوړه شوی. ټول ټال په پوځی شخړه کی د ٤۳٤۳ ملکی وګړو ټپي کيدل ثبت شوي دي. له دي جملی څخه ۳۳٦٦ ملکی کسانو ژوبله چي د ټولو ټپيانو ۷۸ سلنه تشکيلوي، د دولت ضد عناصرو ته منسوبيږي چي دا د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۲۱ سلنه لوړوالي ښيئ. دولت پلوه وسلوالو ځواکونو ته د ٤۰۰ ملکی کسانو ژوبله منسوب شوی چي د ټولو ټپي شوو پيښنو ۹

---

[3] په ټوله کی د دولت پلوه ځواکونو له خوا په هوايي بريدونو کی په ۲۰۱۰ کال کی کمښت راغلی. خو د ۲۰۱۰ کال په اوږدو کی ملکی تلفاتو کی ډير والی راغلی . د ۲۰۱۰ په لومړی نيمايی کی ۶۹ ملکی کسان وژل شوی او دويمه نيمايی کی ۱۰۲ ملکی خلک وژل شوی دی چی د هوايی برديونو له امله ملکی تلفاتو کی د کال لومړی نيمايی په پرتله ۴۸ فيصده لوړوالی ښی.

[4] هره سيمه په لاندی ولايتونو مشتمله ده . مرکزی سيمه عبارت ده له کابل ، پنجشير ، کاپيسا ، لوګر ، پروان او وردګ څخه، ختيځه سيمه د کنړ ، لغمان ، ننګرهار او نورستان څخه، لويديځه سيمه عبارت ده له بادغيس، فراه، غور او هرات څخه، د شمال سيمه کی بلخ، فارياب ، جوزجان، سمنګان او سرپل، شمال ختيځه سيمه کی بدخشان ، بغلان ، کندز او تخار، جنوب ختيځه سيمه کی غزنی، خوست، پکتيا او پکتيکا او جنوبی سيمه کی هلمند، قندهار، نيمروز، ارزګان او زابل او مرکزی لوړه سيمه کی باميان او دايکندی شامل دی.

سلنه تشکیلوي او د ۲۰۰۹ کال په پرتله په دی کی ۱۳سلنه ټیټوالي راغلي دی. د نا معلومه خواو له لوري ۵۷۷ ملکي کسان ټپي شوي دی چي دا د مجموعي شميري ۱۳سلنه جوړوي.

## دبریدونو مسؤلیت

په ۲۰۱۰ کال کی دبشری حقونو خپلواک کمیسیون او د یوناما بشري حقونو څانګي هغه پيښی ثبت کړي دي چي پوځي شخړه کي ښکیلو خواؤ د بریدونو له امله ملکي کسانو ته زيان اړولی وی او کومی ډلی یی د مسؤلیت ادعا کړی وی.

د دي هلو ځلو موخه داده چي په جنګ کي ښکیلي خواوي اووسله والي ډلي د ملکي مرګ ژوبلي له امله په ګوته شی او په دی هکله حساب ورکول وده وموموی او هم د اړونده ډلی سره پدی اړه خبري وشي. د بریدونو د مسؤلیت د ادعا په تړاو د بشری حقونو خپلواک کمیسیون او د یوناما د بشر ی حقونو څانګه دا په نښه کوی چي په ۲۰۱۰ کال کی د ګڼ شمیرملکي کسانو د تلفاتو مسؤلیت په هکله هیڅ یوي خوا یا وسلوالی ډلی ادعا نده کړی.

## دحکومت ضد عناصر

په ۲۰۱۰ کال کي د حکومت ضد عناصرو غیر قانونی جنګي وسیلی کارولی چی په کی غیر متناسب تکتیکونه، په ځانګړي توګه ځاي پرځاي شوي چاودیدونکي توکي اوځان وژونکی بریدونه شامليږی او په ښکاره ډول پوځي اهداف په نښه کوي، خو دافغانانو د ژوند بنيادي حق، اسلامي اصولو اونړیوال بشردوستانه اصولو لکه تفکیک، د متناسب ځواک استعمال[۵] او احتیاطی تدابیرو کارولو څخه سرغړونه کوي. دا تکتیکونه د ګڼ شمیر ملکي وګړو د مرګ ژوبلي اوپه سیستماتیک ډول د ملکي وګړو د ویرولو سبب ګرځیدلی اوسربیره پردي د پوځي شخړو سیمو کي یی د ملکي خلکو اساسي اواړینو خدمتونو ته لاسرسي په مخ کي خنډ او ستونځي زیږولي. زیات پیچلی او پر مخ تللو ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو د پراخه استعمال په نا متناسبه توګه ملکی وګړو ته زیان اړولی دی. دهیواد په کچه ۲۱ سلنه ځاي پرځاي شوي چاودیدونکی توکی او۴۰ سلنه ځان مرګي بریدونه د ملکي کسانو د مرګ ژوبلي لامل ګرځیدلی دی. دحکومت ضد عناصرو ته د منسوب شوو ټول ټال ملکی تلفاتو ۱۱ سلنه مړینه دځان مرګي بریدونو په نتیجه کی را منځ ته شوی او په ۲۰۱۰ کال کي د ټولو ملکی تلفاتو ۸ سلنه جوړی چی د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۱۵سلنه په کی ټیټوالی راغلي. دځان مرګي بریدونو لړي په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال کي برابره وه (تقريبا ۱۴۰ بریدونه هر کال) چي دا د دي ښکارندويی کوي چي ځان مرګي بریدونه په ۲۰۱۰ کال کي د ۲۰۰۹ په پرتله د لړو ملکي مړينو لامل شوي دی.

په سلګونه په نښه شوی وژنی یا اعدامونه د حکومت ضد عناصرو ته منسوب شوي. هغه کسان اودهغوي خپلوان چي دافغانستان دولت او یانړیوالو ځواکونو سره مرسته کوونکی ګڼل شوی، ولایتی لوړ پوړي چارواکي، دبیلګي په توګه، واليان، ولسوالان، د ولايتي شورا وکیلان، ديني مشران اوعادي ملکی کسان لکه داکتران، ښوونکی، زده کوونکی، اوتعمیراتي کارکونکي په ګوته شوی او وژل شوي دی. دکوم روښانه سبب پرته دحکومت ضد عناصرو زیات ملکي کسان د جاسوسی په شک وژلي چي په زیاتو حالاتو کی د صحرايي محکمي په ډول اعدامونه ترسره شوی. مرستندویه

---

[۵]په افغانستان کی په جنګ کی دخیل خواوی په شمول د دولت ضد ټولو عناصر د نړیوال قانون مطابق قانونی مسؤلیت لری چی په ملکی خلکو بریدونه پایی ته ورسوی او لاندی اصولو ته پام وکړی . توپیر:(ټولی ډلی) باید هر وخت د ملکی وګړو او جګړمارو تر منځ توپیر وکړی او پوځی او ملکی اهدافو تر منځ توپیر ؛۱ لومړی اضافی پروتوکول ماده ۴۸.وګوری ماده ۵۱(۲) چرته چی ملکی خلک د حملو هدف نشی ګرزیدی . ؛او ماده ۵۲ (۲) چی حمله به یوازی په پوځی اهدافو پوری محدود وی .؛ تناسب :؛هغه برید چی کیدای شی د په حادثاتی توګه د ملکی خلکو ژوند واخلی او یا یی ټپیان کړی او ملکی شتمنی زیانمنی کړی او یا ددی ټولو مجموعه شی چی د اصلی هدف او نظامی لاس ته راوړنی نه زیات کارول وی . ؛ ۱ اضافی پروتوکول ماده ۵۱ (۵)ب) په برید کی احتیاط : د نظامی عملیاتو په وخت باید تل احتیاط نه کار واخستل شی چی ملکی خلک وژغورل شی هم ملکی خلک او هم شتمنی .ټول هغه ممکن احتیاط نه د کار واخستل شی له انده د هر ممکنه ملکی مرګ ژوبلی او ملکی شتمنی ته زیان اوړی . اضافی پروتوکول ۱ ماده (۵۷) ۱ او ۲ (ا)(ii )

کارکونکي، داخلي اونړيوالي غيردولتي مؤسسې، پرمختيائي کارکونکي دټول کال په دوران کې يا خو وژل شوي او يا د سړي تښتوني او داسې نورو ويروونکو تکتيکونو هدف ګرځيدلي.

د بشري حقونو څخه سرغړونې په شمول، د وژلو نورې ويجاړونکې اوناوړه اغيزي پر زيانمنيدو سر بيره نورې ټولنيزې او رواني اغيزې له ځانه سره لرې. که يوکس پريکړه کوي چي د ولسوالي شورا کي شامل شي، د يوخاص کانديد لپاره کمپاين وکړي، په يوه انکشافي مؤسسه کي دنده واخلي اويا په دغه ساحه کي د طالبانو دنوي قوماندان په هکله په ازاده توګه خبري وکړي، نو په دي پوهيږي چي د ده پريکړه دمرګ اوژوند پايلي ځان سره درلودلې شي. د وژلو اصلي موخه داده چي د اساسي بشري حقونو (ژوند اومصؤنيت) دبيان آزادي، سياسي ګډون او اتحاديو جوړول، کار او زده کړي څخه د خلکو مخنيوي وکړي. د افرادو د حقونو د پښو لاندې کول سياسي، اقتصادي او ټولنيزي پايلي لري چي دهغي اغيزي د حکومت دارئ او پرمختيايي هلو ځلو مخه نيسي. او په داسې حالاتو کې نه د افغانستان امنيتي ځواکونه اونه هم نړيوال ځواکونه په دې توانيدلي دي چي د ملکي کسانو ساتنه وکړې. دملکي کسانو د اختطاف پيښي د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۸۳ سلنه زياتي شوي چي د ۱۳۷ څخه ۲۵۱ کسانو ته په ۲۰۱۰ کي دا تعداد لوړ شوی.

که څه هم د طالبانو د ۲۰۱۰ کال نوی لايحه په داسي مادو مشتمله ده چي موخه يې د ملکي تلفاتو کموالي دی، خو د بشري حقونو خپلواک کميسيون او د يوناما بشري حقونو څانګي د طالبانو لخوا د پلي کيدو داسي کوټلي ګامونه مشاهده نه کړل چي له امله يي سرغړونکي قوماندانانو يا افرادو پرخلاف اجرات ترسره شوي وی. د يوناما دبشري حقونو څانګي او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کميسيون په ۲۰۱۰ کال کی ګڼ شمير بي له توپيره اوغير متناسب بريدونه ثبت کړي چي د ملکي کسانو د تلفاتو لامل ګرځيدلی او طالبانو د دغي بريدونو د مسؤليت ادعا کړی ده.

## دولت پلوه ځواکونه

سره له دی چی د دولت پلوه ځواکونو شمير په ۲۰۱۰ کال کی ۱۰۷۰۰۰ لوړشو او د دوي په پوځي عملياتونو کي زياتوالی راغی، د ملکي وګړو مرګ ژوبله چي دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوی، په کی د ۲۰۰۹ په پرتله ۲۱ فيصده ټيټوالي راغلي. د ۸۴۰ ملکي کسانو د تلفاتو (يا ۱۲ سلنه د ملکي خلکو مرګ ژوبله) دولت پلوه ځواکونو ته منسوبيږی. دهوايي بريدونو د لټون او نيولو عملياتو يا د شپي لخوا د کورونو تلاشي کي د ملکي کسانو په تلفاتو کي ټيټوالي ليدل شوی. د لټون او نيولو عمليات يا د شپی له خوا د کورونو تلاشی له امله د ملکي کسانو تلفاتوکي ۱۸سلنه ټيټوالي راغلي.

دنړيوالو اوافغان ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو د راکمولو په اړوند اخيستل شوو ګامونو په پايله کي د تيروکلونو په نسبت په ۲۰۱۰ کال کي لږ شمير وکړي د دي ځواکونو لخوا مړه اوټپيان شوي دي چی په ۲۰۱۰ کال کی د نړيوالو ځواکونو د زياتو شوو پوځي عملياتو په پام کی نيولو سره دا د خوښی خبره ده.

د شپې له خوا تلاشې او نورو تکتيکونو له امله په ۲۰۱۰ کال کی د ملکی کسانو زيان راتيت شوی چی عمده لامل يی د نړيوالو امنيتی ځواکونو له خوا د قواعدو وضع کول، تکتيکی لارښود، معياری کړنلاره او د ترهګری پر وړاندی د مبارزی لارښود پياوړی کول او پلی کول وو چی د ځواک د کارولو محدودولو او د ملکی کسانو خونديتوب باندی ټينګار کوی. خو بيا هم د تکتيکی لارښود او اصولو بشپړ او دوامدار ه پلي کول او د ملکی تلفاتو په روښانه او سم ډول پلټل او د حساب ورکولو په اړوند تر اوسه اندېښنی پر ځای پاتي دي.

دشپې له خوا تلاشي د زياتو ملکي تلفاتو لامل نه ګرځي خو داسي عمليات په دوامداره توګه په افغاني ټولنو کي غصه اوقهر راپاروي. ګڼ شميرټولني دولت پلوه ځواکونو ته په دي نظرګوري چي د شپي د تلاشي عملياتو په دوران کی رامنځ ته شوو سرغړونو سره د مجازاتو څخه د معافيت چلند کيږي اولامل يی داغيزمنو او روښانه پلټنو او د سرغړونکو د محاکمي نشتوالي دي. د توقيف شوو کسانو د ځای ځای ګی په اړوند د مالوماتو نشتوالی، د مرګ ژوبلی او شتمني د زيان په مقابل کی د خسارې جبران نورې انديښنی دی. بل لوری ته د شپی د تالاشی پر وخت د زيانمن

شوي فامیل او قبیلی مشر لپاره ناوړه اغیزی دا دی چی ټولنه کی پر هغه داغ لږیږی چی هغه د خپل کور ولکه په لاس کی نه لری.

په مجموع کی د شخړی د زور اخستلو سره، دولت پلوه قواوی نه شی کولای چی د تکتیکی لاربښود پلی کول او نورو تدابیرو نیولو سره ځان برابر کړی چی د شپی له خوا د تلاشی او د ځواک په سمه توګه کارول تنظیموی. د تکتیکی لاربښود په دوامداره توګه بیاکتنه، تحلیل او ارزونه او په عمل کی یی پیاده کول به د دولت پلوه ځواکونو لخوا ملکی خلک نور هم خوندی کړی.

## د افغان محلی پولیسو پروګرام

په ۲۰۱۰ کال کی د افغانستان حکومت د افغان محلی پولیس (ALP) پروګرام پیل کړ. د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کی محلی امنیتی پروګرام په دی اساس رامنځ ته شو چی ځایی خلک په وسلوالو لیکو کی د محدود امنیتی فعالیت سره وګمارل شی چی له امله یی ټولنه د دولت ضد عناصرو څخه وساتل شی. دا پروګرام دا مهال په ۶۱ ولسوالیو کی د ۱۵،۷۰۰ محلی پولیسو د جذب اجازه ورکوی چی ټول ټال به په ۱۰۰ ولسوالیو کی ۳۰،۰۰۰ محلی پولیس تر دی چتر لاندی جذب شی. د ولسوالی په کچه محلی پولیس د امنیی قوماندان په وړاندی مسؤلیت لري. د متحده ایالاتو ځانګړی ځواکونه به د غیر رسمی روزونکو او غیر رسمی نظارت کونکو رول لری او د افغان محلی پولیسو په مراکزو کی به دوی سره تر یو محدود وخته کار کوی او دوی ته به روزنه ورکوی تر څو نورو ځواکونو ته وسپارل شی.

د یوناما د بشری حقونو څانګی او د بشری حقونو خپلواک کمیسیون په څو سیمو کی د ځایی پولیسو رامنځ ته کیدل او د هغوی له فعالیت څخه لیدنه کړی. په داسی حال کی چی منل شوی ده چی د پروګرام له پیل څخه لږ وخت شوی او ارزونی لپاره زیات وخت ته اړتیا ده، د نظارت ،استخدام ، انتخاب، د قوماندی او کنترول میکانیزم، محدودی روزنی او د ولسوالی امنیی قوماندان ته اغیزمنی ځواب ورکونی په هکله اندیښنی موجودی دی. دا ستونځی په کندز او بغلان، د ارزګان ولایت په خاص ارزګان ولسوالی، او دایکندی په کجران ولسوالی کی لیدل شوی دي. په نورو سیمو کی بیا په هرات کی پښت رود ولسوالی، او د پکتیا ځاځی ولسوالی او د پکتیکا برمل ولسوالی په ټولنو کی د ځایی پولیس وجود مثبت ارزول شوی دی.

دا د پام وړ خبره ده چی د ځایي پولیسو صلاحیت، مکلفیت او د توقیفولو په اړوند رول روښانه نه دی او یا دا چی دوی ته د خپل سری توقیف، د توقیف شویو کسانو د لیږدونی، د توقیفولو لپاره شرایط او د ناوړه چلند د مخنیوی په هکله لاربښونه کیږی. د بشری حقونو خپلواک کمیسیون او د یوناما د بشری حقونو څانګه په دی تاکید کوی چی د محلی پولیسو ټولو فعالیتونو څخه په کلکه څارنه وشی او د ناوړه چلند او جرایمو کی د ښکیلتیا په صورت کی په فوری توګه تادیبی مجازات ورکړل شی، نو دا به د ملکی کسانو د ژوند خوندیوالی ډاډمن کړی او معافیت ته به وده نه ورکوی.

د افغانستان په سویل کی پوځی عملیات

په ۲۰۱۰ کال کی د نړیوالو ځواکونو شمیره او عملیاتونو کی زیاتوالی د افغانستان په سویل کی د مخالفینو پر مرکزونو متمرکز وو. ستر پوځی عملیات په دی موخه تر سره شول چی د هلمند مرکزی برخه او د قندها ر ښار چاپیره ولسوالی د طالبانو څخه پاکی کړی چی دی ته د دولت پلوه ځواکونو د ترهګری پر وړاندی د ستراتیژی اساسی تجربی په توګه وکتل شول. د دی په جواب کی د طالبانو غبرګون د حکومت د واک د سیمی پر وړاندی د ټینګی مقابلی کوښښ وو چی

په کې د ملکي کسانو د اعدامولو کمپاین ته یې دوام ورکړ. په جنوبي سیمه کې ملکي مرګ ژوبله د ټول افغانستان د ټول ټال ملکي مرګ ژوبلې ۴۰ ٪ تشکیلوي.

د ۲۰۱۰ کال په اوږدو کې د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او د یوناما د بشري حقونو څانګې د ملکي کسانو د خوندي ساتنې ستونځې د نژدې څخه څارلې او تحلیل کړې دي چې دغه ستونځې نورو سیمو ته ورته ستونځې دي. ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي او د نړیوالو ځواکونو له خوا دوام داره تر سره شوي پوځي عملیات د بل هر یو تکتیک په نسبت د ډیرو ملکي کسانو د تلفاتو لامل شوي دي. خو په هلمند او قندهار کې د ملکي کسانو د وژلو لامل په روښانه توګه تو پیر لري. په هلمند کې د ملکي کسانو په تلفاتو کې په ډراماتیکه توګه د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۷۸ سلنه لوړوالی راغلی چې د دولت پلوه ځواکونو او طالبانو تر منځ وسله والو نښتو په پایله کې رامنځ ته شوي او یا انفرادي وژني شوي دي خو بیا په قندهار کې د ملکي کسانو مرګ ژوبله کې ۱۱ سلنه ډیر والی راغلی ( که څه هم په قندهار کې پخوا راهیسي ملکي تلفات ډیر وو). د دولت پلوه ځواکونو لخوا په ۲۰۱۰ کال کې د هلمند په مارجه او ناد علی ولسوالیو کې د لټون او نیولو عملیاتو چې په پایله کې یې له ځانه سره د غبرګون په ډول تاوتریخوالی درلود، د ګڼ شمیر ملکي تلفاتو لامل شو. بل لوري ته د قندهار ښار سره په پوله پرتې ولسوالیو کې (ارغنداب، ډنډ، پنجوایی او ژیړی ولسوالي) د ۲۰۱۰ کال د جولایي او نومبر تر منځ موده کې د تصفیوي پوځي عملیاتو په پایله کې د ملکي تلفاتو کچه کې ډیر والی نه دی راغلی، خو په لویه اندازه د شتمنی د زیانمنولو او ویجاړولو لامل شوي دي.

په ۲۰۱۱ کال کې د ملکي خلکو لپاره د امنیت د ښه کولو د هڅو په موخه د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او د یوناما د بشري حقونو څانګه د مارجې او قندهار د پوځي عملیاتو په اړوند د لاندی ملاحظاتو وړاندیز کوي. په پیل کې د دولت پلوه ځواکونو له خوا ستراتیژیکي پریکړه چې مارجه یې د یوګڼ شمیر استوګن کلیوال چاپیریال په توګه د جنګ میدان وټاکه، په داسې حال کې چې د ضرورت وړ افغان پولیسو او ملکي ساتنې وړتیا چې بیا وروسته خلک وساتي موجوده نه وه، د ګڼ شمیر ملکي خلکو د زیان لامل شوه. په ولس میشته سیمو کې مخکې له دې چې په بشپړه توګه تصفیه شي، د ګڼ شمیر مرکزونو او پوستو ایجادول د خطرناکو حرکتونو لامل شو چې د دولت پلوه ځواکونو او طالبانو تر منځ نښتو ملکي کسان اغیزمن کړل. د طالبانو لخوا د ملکي کسانو قتل او ملکي خلک په ګن میشتو سیمو کې د سپر په ډول کارول نه یوازې یو غیر قانوني تکتیک دی، بلکه د اوسیدونکو لپاره یې ویجاړونکي پایلې د ځان سره درلودې.

د نادعلي او مارجې او د قندهار ښار نه چاپیره ولسوالیو د عملیاتو پرتله کول دا جوتوي چې ښایي دولت پلوه ځواکونو د هلمند عملیاتو څخه سبق زده کړوي چې په قندهار کې پوځي عملیات زیات شوي وو خو ملکي تلفات ډیر محدود وو. دوه عمده لاملونه د قندهار پوځي عملیاتو سره تړاو لري؛ دا چې دولت پلوه ځواکونه مخکې له دې نه چې عملیات پیل کړي، په پراخه کچه د ټولنې سره په سلا مشورو بوخت وو او بیا یې د قندهار ښار چاپیره د ټیټې کچې عملیات تر سره کړل؛ بل دا چې د قندهار عملیات د پخوا څخه پلان شوي وو (نه دا چې د طالبانو د بریدونو په مقابل کې ځوابي بریدونه وکړي) او سر بیره پر دی په بریدونو کې د طالبانو جنګیالي دقیق په نښه شوي وو چې له امله یې کم ملکي تلفات رامنځ ته شول. د یوناما د بشري حقونو څانګې او بشري حقونو خپلواک کمیسیون د قندهار د عملیاتو په پایله کې ولیدل چې په لویه کچه کورونه ړنګ شول، فصلونه او د خړوبولو سیستم ویجاړ شو. د دولت پلوه ځواکونو د مرکزونو د دفاع د ټینګولو او د ښخو شوو چاودیدونکو توکو په ګوته کولو په موخه ګڼ شمیر کورونه ویجاړ شول. پوځي وسایط د ځای پر ځای شوو چاودیدونکو توکو څخه د ساتنې لپاره د سرک پر بله خوا تګ راتګ کاوه چې په پایله کې دیوالونه، او د خړوبولو سیستم یې و یجاړکړل او دولت پلوه ځواکونو له دی امله چې د دوی پر ضد د مورچل په ډول ونه کارول شي، نو هغه ابادي چې د انګورو وچولو لپاره یې تری ګټه اخستله، ړنګې کړې. د یوناما د بشري حقونو څانګې او بشري حقونو خپلواک کمیسیون د ژیړی او پنجوایي ولسوالی مشرانو سره مرکې کړې چې د ملکي خلکو اندیښنې یې داسې راټولې کړې دي "ترکومه حده چې عملیات تر سره شوي پایلې یې منفي دي ځکه چې دوی د خلکو کورونه باغونه او خړوبولو سیستم ویجاړوي. په راتلونکي کې نه پوهیږو چې څه روښنایي به له ځان سره راوړي" او " تصور وکړې چې زه یو وړوکي کور او باغ لرم، که تاسې دا ویجاړ کړې او راتلونکي کې دلته امن وي نو داسې امن زما لپاره کوم ښه والي لري".

د قندهار په یوځی عملیاتو کی دولت پلوه ځواکونو د ملکی تلفاتو څخه مخنیوی په خاطر له احتیاط نه کار اخیستی خو د نړیوالو بشر دوستانه قوانینو او نورومونو له مخی د یوځی اهدافو تعریف، د مناسب ځواک کارول او د بریدونو پر وخت د احتیاط نه کار اخستل په سمه توګه ندی پلی شوی، په ځانګړی توګه کله چی ملکی شتمنی ته خطر متوجه وو.

دا جوته خبره ده چی د قندهار ښار چاپیره تصفیوی عملیاتو کی د هلمند د مرکزی برخی د عملیاتو په پرتله لږ شمیر ملکی تلفات رامنځ ته شوی. خو د ملکی ولس لپاره د دی عملیاتو اوږد مهاله پایلی په دی پوری تړلی دی چی دولت پلوه ځواکونه په دغو سیمو کی تل پاتی امنیت ټینګ کړی او د لومړیتوب په اساس د شتمنیو بیا رغونی په بشپړ ډول تمویل کړی. اوږد مهاله پایلی دی پوری هم اړه لری چی په شخړه کی ښکیلی خواوی دملکی تلفاتو د مخنیوی په خاطر په راتلونکی دوبي کی، چی په قندهار کی د زیاتو نښتو وړاند وینه شوی، کوم ګامونه اخلی او په مارجه کی د ۲۰۱۰ کال سپرلی او دوبی تکرار نه کړی. د قندهار لږ شمیر اوسیدونکو د راتلونکی په هکله د ا حتیاط نه ډک خوش باوری ښکاره کړی. د پنجوایی ولسوالی د مشرانو څخه یو یی د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په میاشت کی د یوناما د بشری حقونو څانګی او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون ته داسی وویل: "مونږ یو کال امنیت ته اړتیا لرو نه د شپږو میاشتو امنیت ته".

**بشری مرستو ته لاس رسی**

ملکی خلک په یوځی شخړه کی یوازی د مرګ ژوبلی او ویری ډک چاپیریال څخه اغیزمن شوی ندی، بلکه د بی ځایه کیدلو، د شتمنی زیان او ویجاړیدلو، کاروبار له لاسه ورکولو، پر ګرځیدو بندیز او اساسی او اړین خدمتونو لکه صحت ته پاملرنه، خوراک او زده کړی ته نه لاس رسی، سره مخ شوی دی. د ملګرو ملتونو د کډوالو عالی کمشنر مطابق په ۲۰۱۰ کال کی د یوځی شخړی له امله ۱۰۲،۶۵۸ کسان بی ځایه شوی دي. د خطر نه ډکو شرایطو مرستندویه ټولنه له دی نه منع کړی چی هغو خلکو او ټولنو ته لاس رسی ولری چی مرستی ته اړ دی او د نه امنیت او تاو تریخوالی له امله بی ځایه شویدی چی د پخوا راهیسی مرستی ته اړ خلکو بد حالت یی لا پسی نور بد تر کړی. د ګڼ شمیر وسله والو ګروپونو شتون د بشری مرستو کار د زیاتو ستونځو سره مخ کړی چی د مرستندویه کار کونکو امنیت په ډیرو سیمو کی خوندی ندی.

## نتیجه

لکه څنګه چی د امنیت ساتلو مسؤلیت له نړیوالو ځواکونو څخه افغا ن ځواکونو ته سپارلو پروسه به په ۲۰۱۱ کال کی پیل کیږی، د یوناما د بشری حقونو څانګه او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون د امنیت د سپارلو په پروسه کی د ملکی خلکو په خوندیتوب او امنیت ټینګوالی باندی تاکید کوی. حد اقل د انتقال دا پروسه باید داسی پایلی ونه لری چی د ملکی خلکو ساتنه را کمه شی چی د افغان امنیتی ځواکونو په شمول محلی پولیسو ته د انتقال په سیمو کی موزونه څارنه، روزنه ، چال چلند او حساب ورکونی ته اړتیا لری. د یوناما د بشری حقونو څانګه او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون په دی تاکید کوی چی باید د انتقال پروسه د فردی امنیت په اجنډا کی ټول اساسی عناصر رانغښتی وی او د بشری حقونو، په ځانګړی ډول د ښځو او ماشومانو حقونو، احترام ته وده ورکړی.

د شخړی ښکیلی خواوی، د افغانستان دولت، نړیوال ځواکونه او د دولت ضد عناصر د نړیوال قانون په رڼا کی مسؤلیت لری چی ملکی کسان خوندی وساتی. د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون او د یوناما د بشری حقونو څانګه بیا د ښکیلو خواو څخه غواړی چی په ملکی کسانو بریدونه ودروی او د ملکی افغانانو د ژوند بنیادی حق ته په احترام وګوری او نړیوال حقوقی اصول چی په وسله والو عملیاتونو کی تفکیک، د مناسب قوت استعمال او احتیاط په کی شامل دی، او ښکیلی خواوی پدی مکلفوی چی د ملکی خلکو مرګ ژوبله را کمه کړی، مراعات کړی.

## سپارښتنی

د دولت ضد عناصر (طالبان اونورد دولت ضد وسلوالو ډلو ته )

- سمدلاسه د ملکی وګړو، د ملکی دولتی مامورینو او هغو ملکی کارکوونکو په شمول چی د نړیوالو نظامی ځواکونو سره کارکوی، او هغوی د هر ډول اسلامی او نړیوالو قوانینو د اصولو پر اساس د ضرر څخه خوندی دی، په نښه کولو څخه لاس واخلی. همدا راز خپلی هغه پریکړی دی باطلی وګرځوی چی دملکی خلکو دوژلو اجازه ورکوی.
- هغه قوانین اومقررات اولارښوونی پلی کړئ چی په ملکی خلکو د حملو مخنیوی کوی او هغه دولتی ضد عناصر مقصربولی چی د ملکی خلکو مرګ او ژوبله کوی.
- د تناسب، توپیر او احتیاط اصولو په نظرکی نیولو سره د نړیوالو بشری قوانینو له مخی د ملکی تلفاتو مخه ونیسئ.
- پلټنه اوتحقیقات دی وکړئ او د ټولوملکی تلفاتو د پیښو، چی د دولت ضد عناصر په کی ښکیل وی، په هکله علنی راپور ورکړئ اود ملکی تلفاتو په اړوند د معلوماتو ورکولو لپاره یومصؤن رابط غړی وټاکئ.
- د وژنی اوتهدید ټول قوانین سمدلاسه له اجرأتو وغورځوئ چی د افغانستان د اساسی قانون او ملی قوانینو او همدا راز د نړیوالو بشری او د بشر د حقونو د قانون له مخی جواز نلری چی د ملکی خلکو له وژنی، اعدام، اختطاف، تهدید، معیوبیت او سرغوڅونی څخه عبارت دی.
- داخبره یقینی کړئ چی ولسی خلک په پوره ډول سره د آزاد تګ راتګ حق، د اساسی خدماتو لکه روغتیا اوتعلیم څخه برخمن دی.
- هغه تلاشی ګانی سمدلاسه پای ته ورسوی چی د ولسی خلکو د تګ راتګ د آزادئ مخه نیسی.
- د جګړی په وخت کی د خپلو جګړه مارو دتحفظ په خاطر د سپر په ډول د ولسی وګړو کارولو څخه سمدلاسه لاس واخلئ.
- په ښوونځیو، روغتیایی تسهیلاتو او جوماتونو د حملو څخه لاس واخلئ چی د نړیوال بشری قانون په وړاندی خوندی ځایونه دی.

**نړیوالو نظامی ځواکونو ته**

په ټولو هغو حوادثو کی چی ملکی تلفات ولری بشپړی، بی طرفه او روښانه پلټنی وکړئ، پخپلو پرمختګونو او د پلټنو په نتایجو باندی علنی او چټک راپور ورکړئ هغه افراد دی ګرم وګڼل شی چی د بشر حقونو د نړیوال قانون اودبشر دوستانه نړیوال قانون په وړاندی د جدی سرغړونو مسؤل وی، او د سر غړونکو پر وړاندی دی تادیبی او جزایی اجرآت تر سره شی.

دا یقینی کړئ چی ستاسی سیمه ایز قوماندانان د خپل ځواک کارول او د شپی له خوا بریدونو پر وخت په پوره ډول سره د عملیاتو معیاری اصول او تکتیکی لارښوونی په عمل کی پلی کوی او د یو معیاری، روښانه څارنی او نظارت له مخی د پلی کولو ارزیابی کیږی.

دشپی لخوا د بریدونو پرځای دوامداره متبادلی لاری چاری ولټوئ او ډاډ دی ورکړی چی د شپی تلاشی، بندیزونه اویرغلیزعملیات د افغان ملی امنیتی ځواکونو سره په ګډه او یا د هغوی په مشر ی سرته ورسی چی د هغی له لاری په بشپړ ډول د عنعنوی، کلتوری او مذهبی ارزښتونو قدر وکړای شی چی د قوتونو دنړیوالو قانونی وظایفو له تناسب، توپیر اواحتیاط سره په مطابقت کی وی. دا خبره یقینی کړئ چی نړیوال او افغان امنیتی ځواکونه هغه بشپړی شوی معیاری ارتباطی فورمی د متضرر او یا د بندیانو د خپلوانو سره پریږدی چی د تکتیکی هدایاتو او لارښونو لپاره اړینی دی.

دځانګړو قوتونو عملیاتو په اړه شفافیت ته وده ورکړئ او په هغو مواردو کې چې د دوی د کړنو په پایله کې ولسی خلکو ته زیان ور اړول شوی وی خپل مسؤلیت علنی ومنی.

د ایساف اوټولو امریکایی او افغان ځواکونو په شمول د خاصو عملیاتو ځواکونو لپاره دي یو لاربنود نشرشی چې په کې د ناټو ناپییلو لاربنوونو باندی ټینګارشوی وی چې د تاوان ورکونه، دعملی تفصیلی پروسیجرونو وړاندیز، د تلفاتو د ثبت د ادعاؤ د ترلاسه کولو، دپلټنو د ترسره کولو او د خساری جبران په فورموکی د ترمیم وړاندیز، بخښنی، په غم کی شریکیدنه او د درنښت نورو نښو او اشارو باندی تأکید شوی وی.

دمعیاری عملیاتو کړنلاره دی عملی کړی چې معیاری اصول اومقررات پخپلو مطالبو کی رانغاړی، د هغو ثبوتونو د چال چلند لپاره چې د نیونی په وخت کی راغونډ شوی وی، اوهمدا راز د هغی کړنلاری عملی کول چې شواهد افغانی چارواکوته ورسپاری.

په پراخه ډول ټول د ایساف/امریکایی قوتونو هغه تصامیم له نظره تیرکړی چې د عملیاتو په وخت د ولسی خلکو شتمنیو ته زیان رسوی او دا ډاډ تر لاسه کړئ چې دغه تصامیم د نړیوال بشری قانون سره سمون خوری، اوهغه متبادلی لاری چاری ولټوئ چې دولسی وګړو د شتمنیو اومعیشت د تباهی کچه راټیټوی.

د یو داسی مناسب میکانیزم د جوړښت ملاتړ وکړئ چې د افغان ځایی پولیسو د جوړښت، استخدام او د هغوی د واحدونو (مرکزونو) د فعالیتونو څارنه کوی ترڅو د پولیسو د هغو بد چلند اوغیرقانونی اعمالومخنیوی وکړی کوم چې د ځایی پولیسو د قوماندی او طرزالعمل څخه بهر دی، اودایقینی کړئ چې د افغان ځایی پولیسو واحدونه د افغانستان اونړیوالو قوانینو په شمول، د بشر د حقونو او د بشری قانون سره موافق چلند وکړی.

**دافغانستان د دولت لپاره**

د یوی مسلکی دولتی اداری جوړښت د داسی ځواک په درلودلو سره چې عمده ولسی تلفاتو پیښو ته ځواب ووایی او دا توان ولری چې ټولو دخیلو ډ لو سره د معلوماتو په شریکولو، پلټنو او کشفولو کی کاروکړی.

یوهمغږه، شفاف او په خپل وخت سره د معیاری تاوان ورکونی کړنلاری عملی کول او د جنګ ځپلو ملکی وګړو د پاره د کړنلاری او د جبران خساری او د مسؤلیت په شمول په هکله د خلکو د پوهاوی د سطحی لوړول.

څرنګه چې دامنیتی مسؤلیتونو مشری د نړیوالو ځواکونو څخه افغان ځواکونوته انتقالیږی، نوپه افغان ملی اردو کی دی یوهیئت د رابط غړی په ډول جوړ شي ترڅو د ملکی تلفاتو او د اسنادو جوړولو، پلټنو، احتساب او د جبران خساری دندی اجراء کړي.

د نړیوالونظامی ځواکونو سره یوځای دی داسی قانونی لایحه جوړه اوعملی کړی چې د ممکنه هدف ګرځیدونکو ملکی وګړو له وژنو څخه مخنیوی وکړي.

پدی ډاډمن کیدل چې د افغانستان ملی امنیتی ځواکو نه د افغان ځایی پولیسو په شمول خپلو ټولو وظایفو ته په پوره ډول درناوی کوی چې د نړیوال بشری قانون له مخی د ولسی خلکو ژوند وساتي اوټول هغه ممکنه احتیاطی تدابیراستعمال کړی چې د ولسی خلکو مرګ ژوبله او د هغو شتمنیو ته د زیان رسونی کچه د هغی په مرسته راټیټیږی.

سملاسی د شفافی قانونی لایحی څخه کار اخیستل ترڅو د افغان ملی امنیتی ځواکونو، د افغان ځایی پولیسو په شمول، احتساب ته وده ورکړی او څوک چی د ملکی خلکو د غیرقانونی مرګ ژوبلی سبب ګرځی اویا هم د ملکی افغانانو د حقونو څخه سرغړونه کوي، د هغوی پر وړاندی انضباطی او نور قانونی اجرات ترسره کیږی.

د تولو توقیفی میکانیزمونو، پلټنو، اومحاکمو یقینی کول چی د افغانستان او د نړیوالو عادلانه محاکمو معیارونو سره برابر دی او هیڅوک د ځانګړو پلټنو څارنوالی پرته نه خوشی کیږی او د درنو جرمونو مرتکبین مسؤل او ګرم کڼل کیږی.
دعلمای کرام او بارسوخه مذهبی مشران دی پدی مجبورکړئ چی په جنګ کی دخیلو احزابو باندی غږ وکړی ترڅو د ولسی خلکو وژلو او ژوبلولو ته د پای ټکی کیږدی او په ولسی خلکو دجګړی اثر راټیټ کړی.